د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن (لیکنه: حمید شیرزاد)

۰۴ اگست ۲۰۱۳

## افغانستان،

## د زیارکښانو لپاره د ستونزمن ژوند هیواد

فارن پالیسي په خپل یوه رپوټ کې د هغو هیوادونو په باره کې لیکلي دي چې ژوند په کې تر ټولو ډیر ستونزمن دی. یو له دې هیوادونو څخه افغانستان دی چې واقعاً هم ژوند په کې دخواري کښو لپاره ستونزمن څه چې د نابودی پولې ته رسیدلی دی.سره له دې چې په دې رپوټ کې افغانستان د سومالیا، کنګو، سودان، سویلي سودان، چاد او یمن څخه په اوم کتار کی راغلی دی، خو ټول پوهیږي چې دلته د زیارکښانو لپاره ژوند څومره بد او کرغیړن حالت لري.

په دې رپوټ کې د دنیا ۱۷۸ هیوادونه تر ارزوني لاندې نیول شوي دي. تر ټولو لوړ امتیاز ۱۲۰ دی. هر څومره چې دا امتیاز لوړ وي، مانا یې دا ده چې د دغه هیواد وګړي تر ټولو بد، ستونزمن او کړیدلی ژوند لري. په دې رپوټ کې سومالیا (۱۱۳.۹)، کنګو (۱۱۱.۹)، سودان (۱۱۱)، سویلي سودان (۱۱۰.۶)، چاد (۱۰۹)، یمن (۱۰۷) او افغانستان (۱۰۶.۷) امتیازونه لري.

که څه هم په دې رپوټ کې نه دي راغلي چې په دې هیوادونو کې کومو خلکو ته ژوند ډیر ستونزمن دي، خو له ورایه ښکاري چې د افغانستان په شمول په ټولو هیوادونو کې دا یوازې زیارکښه او بیوزله انسانان دي چې په ډیر کړاو، رنځ او ستونزمنتیا سره ژوند کوي. په افغانستان کې، شتمن، سرمایه داران، خانان او لوی اربابان، د دولت لوړپوړي چارواکي، اینجو لرونکي او جاسوسان ښه ژوند لري او له ښو امکاناتو څخه برخمن دي. خو زیارکښان، بیوزلي او ناداره خلک، که ماشوم دی که ځوان، که سپین ږیری دی که انجلی او که هلک، که سړی دی که ښځه، که کارګر دی که دهقان، که معلم دی که آهنګر او نانبای او خیاط؛ ټول ډیر بد ژوند تیروي. خو په دې منځ کې کارګران او دهقانان تر ټولو کړیدلی او رنځیدلی او له دردونو او رنځونو ډک ژوند لري.

په هر هغه هیواد کې چې بهرنیان خلک ووژني او بیا یې پر جسدونو میتیازې وکړي، خلک د سرګرمی لپاره په نښه کړي، بی رحمه او ستمګر بهرنی سرتیری پوره یوه کورنی له منځه ویسي، د غریبو او فقیرو خلکو پر ودونو بمونه واچول شي، دهقانان ووژل شي، د ډاکټرانو سرونه پری شي، ماشومان په مردکیو په بیرحمی غلبیل غلبیل شي او پر ځمکه یې طالبان د «جاسوسی» په تور سرونه پرې کړي او بسته یوه کورنی د ماین په وسیله ووژل شي؛ په داسې یو هیواد کې ښکاره خبره ده چې وګړي او خلک یې ډیر کړیدلی، دردیدونکی، رنځیدونکی او ستونزمن ژوند تیروي.